

# په ليتويا کې د پناه غوښتونکيو لپاره لارښود

EUROPEAN UNION
Asylum, Migration
and Integration Fund


# محتویات:


2 په لیتویا کې د پناه غوښتنه کول
4 د پناه د غوښتنې وروسته
7 د پناه غوښتونکي حقوق
10 د پناه غوښتونکي مسؤلیتونه
13 د پناه غوښتونکي استوګنځی
20 د پناه غوښتونکي توقیف
22 د توقیف شوي پناه غوښتونکي استوګنځی
24 زده کړه
26 درمل
27 د پناه غوښتنې له مرکز څخه بهر د استوګنې ځای
28 د ټولنیز کارکوونکي او ټولنیز مشاور مرسته
30 مرکه
32 د پناه د غوښتنلیک د ځېړنې پروسه
34 د پریکړو خلاف د اعتراض کولو پروسه
39 د ریاست له خوا یقیني شوي قانوني مشوره
40 د ریاست له خوا یقیني شوي قانوني مرسته غوښتنې پروسه
42 د وضعیت ترلاسه کولو وروسته
44 حتمي منفي پریکړه
45 د تماس ګتوري اړیکي
47 خبرتیا


مخففونه:


| | |
|---|---|
| او سي ایم ای (OCMA) | د تابعیت او کډوالی د چارو دفتر |
| پولي ساتونکی یا بارډر ګارډ | د ریاست پولي ساتونکی |
| مرکز | د پناه غوښتونکیو مرکز |
| اروپایي اتحادیه (EU) | اروپایي اتحادیه |
| د ولایت د ټولنیزې بیمې موسسه (SSIA) | د ولایت د ټولنیزې بیمې موسسه |

دا کتابګوټی د پناه، کډوالی او له ټولنې سره د ادغام د فنډ (2020 – 2014) پروژې لمبر.PMLP/ PMIF/2016/1("په لیتویا کې د نړیوالې ساتنې د اړتیا لرونکي کسانو، استقبالیې او استوګنځی"له په چوکاټ کې او د تابعیت او کډوالی د چارو د دفتر له خوا عملي کړی شوی دی.



د Dueمحدود مسؤلیت شرکت له خوا برابر شوی

# په لیتویا کې د پناه غوښتنه کول




تاسو کولای شئ چې په لیتویا کې د پناه غوښتنې اراده څرګنده کړئ او پولې ساتونکي ته پخپله غوښتنلیک وسپارئ:

- د ریاستي پولو څخه د تېریدلو پر ځایونو کې،
- د هوایي ډګر څخه د وتلو په ځایونو،

که تاسو له مخکې نه په لیتویا کې یئ، نو د سرحدي ساتونکي سره په نږدې سیمه ییز یونټ کې.



سربېره پردې، تاسو په لیتویا کې د پناه ترلاسه کولو د خواهش څرګندونه په لاندې ځایونو کې هم کولای شئ

2 د تابعیت او کډوالۍ د چارو په دفتر کې

3 د ریاستي پولیسو له خوا

4 په څندانونو له خوا




دا چارواکي به په ۳ کاري ورځو کې دننه د پولې ساتونکي سره ستاسو لپاره تماس ونیسي چې تاسو هغوی ته خپل غوښتنلیک وسپارئ.








تاسو کولای شئ خپله آرزو څرګنده کړئ چې په هغه ژبه کې په لیکلي بڼه یا شفاهي توګه په لیتویا کې پناه ترلاسه کړئپه کومه چې تاسو پوهیږئ او خبرې اترې کولای شئ. د پولې ساتونکي به ستاسو پر وړاندې ستاسو په شفاهي توګه د پناه غوښتنې خواهش په لیکلي بڼه لیتوایي ژبې ته واړوي.



### په یاد وساتئ:

د غوښتنلیک د سپارلو نه وروسته به په لیتویا کې ستاسو د پناه کړنلاره پیل کړل شي – تاسو به تر هغې ورځې پناه غوښتونکی ګڼل کیږئ، ترڅو چې ستاسو د غوښتنلیک د بیا کتنې په ترځ کې حتمي پریکړه وکړل شي – چې ستاسو پناه تصویب یا رد کړل شي.



که تاسو یو کم عمره بې مله پناه غوښتونکي یاست (پرته له والدینو یا بالغ خپلوانو)، نو دولت به ستاسو لپاره یو ساتونکی وګوماري.

# د پناه د عریضې کولو وروسته

که تاسو توقیف شوي نه یاست، تاسو ته به د پناه غوښتونکي یو شخصي سند درکړل شي.



ستاسو د ګوتو نښې به واخیستل شي، چې دا د پناه غوښتنې د پروسې یوه مهمه برخه ده.

د پناه غوښتونکي په توګه د شخصي هویت سند به تاسو ته په لیتوانیا کې د پاتې کیدو حق درکوي – په دې سند سره تاسو نورو هیوادونو ته سفر نه شئ کولای. د پناه غوښتنې د پروسې په بهیر کې د لیتوانیا څخه ستاسو تګ به داسې ګڼل کیږي چې تاسو خپل غوښتنلیک منسوخ کړو او په لیتوانیا کې ښایي ستاسو د پناه پروسه فسخ کړل شي.

ستاسو شخصي هویت او سفري اسناد به ستاسو د پناه د حتمي پریکړې د ورځې پورې د سرحد ساتونکي ته سپارل کیږي – پرته له هغه وضعیت څخه چې تاسو په لیتوانیا کې د پاتې کیدو بل څه قانوني حق لرئ، د مثال په توګه، یوه باوري ویزه یا د اوسیدو اجازه.





د پولې ساتونکی به ستاسو سره خبرې اترې وکړي چې ستاسو د شخصي حالت او وضعیتونو په اړه معلومات ترلاسه کړي. کوم معلومات چې تاسو ورکوئ، هغه به د هغې عمده مطالب به ریکارډ کیږي.

هغه معلومات د آډیو یا ویډیو د تخنیکي لارو هم ریکارډ کړي چې تاسو ورکړې وي او د دې په اړه به تاسو ته په جلا ډول خبر درکړل شي.

**په یاد ولرئ، د سرحد ساتونکي دا حق لري چې:**

- چې ستاسو د ملکیت د شیانو کتنه تر سره کړئ؛
- چې هغه مواد او اسناد ونیسي چې د غوښتنلیک د بیا کتنې لپاره مهم وي یا هغه مواد چې پناه غوښتونکیو یا د هغه/هغې شاوخوا خلکو ته ګواښ جوړولی شي؛
- که تاسو یو بې مله کوچنی پناه غوښتونکی یاست نو ستاسو د نماینده پر وړاندې ستاسو د ملکیت د شیانو څېړنه وکړي،

- چې ستاسو د اسنادو، شیانو، ژبې، طبي او متخصص پلټنو او څېړنو تاکنه وکړي
- چې ستاسو عکس وباسي

تاسو چې کوم معلومات د سرحد ساتونکي ته ورکړي دي، هغه به د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر ته واستول شي، هغوی به د دغه معلوماتو ارزونه وکړي او دا تعین به وکړي چې د اروپایي اتحادیې کوم غړی هیواد ستاسو د غوښتنلیک د بیاکتنې مسؤل دی.
که دا وټاکل شي چې د اروپایي اتحادیې بل کوم غړی هیواد ستاسو د غوښتنلیک د بیاکتنې مسؤل دی، تاسو به هغه اړوند غړي هیواد ته واستول شئ. د اروپایي اتحادیې د قانوني مقرراتو له مخې، د اروپایي اتحادیې یوازې یو غړی هیواد ستاسو د غوښتنلیک کتنه کولای شي.

د مسؤل غړي هیواد د ټاکلو کولو لپاره به ستاسو د کیس ګڼ شمیر وضعیتونو ته پام وکړل شي، لکه، دا چې آیا تاسو د اروپایي اتحادیې په غړي هیوادونو کې د خپلې کورنۍ غړي لرئ، او دا چې آیا تاسو د اروپایي اتحادیې په بل کوم غړي هیواد کې د پناه لپاره ادعا کړې یا هلته پاتې شوي یاست، او همدا ډول دا چې د خپل هیواد څخه د رخصتۍ نه وروسته د اروپایي اتحادیې بل کوم غړي هیواد تاسو ته د استوګنې اجازه یا ویزه درکړي او د اصلي هیواد څخه یې ستاسو د سفر د لارې تعین کړی.

که دا تعین وکړل شو چې لیتویا ستاسو د غوښتنلیک مسؤلیت لري، نو د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر به ستاسو د پناه پروسه مخ پرورانډې بوځي.

تاسو به د پولې د ساتونکي څخه د مسؤل غړي هیواد د تعین کولو د معیار په اړه لا نور تفصیلي معلومات د پولې ساتونکیو څخه د پناه غوښتنې په وخت ترلاسه کړئ.



# د پناه غوښتونکي حقونه

د پناه په پرسه کې دخیل چارواکو سره د خلې او لیکلو خبرو اترو لپاره به هغه ژبه کارول کیږي په کوم چې تاسو پوهیږئ. تاسو د پناه اړوند اسناد د کتنې محکمې ته د سپارنې لپاره استولی شئ (که د ژباړې اړتیا وي، نو دا به ژباړه کړل شي).

چې ستاسو د پناه د پروسې د جریان په اړه معلومات ترلاسه کړئ. چې د ترسره شوي پریکړې جزئیات ترلاسه کړئ او وروسته له هغې د استئیاف کولو کړنلاره معلومه کړی او په کومه ژبه چې تاسو پوهیږئ په هغې کې تاسو ته وړیا قانوني مرسته درکړل شي – پرته له هغې که تاسو د مخکې نه نماینده لرئ یا قانوني مرسته ترلاسه کوئ.

که د پناه غوښتونکي په توګه د خپل هویت شخصي سند لرئ او تاسو په شپږ میاشتو کې دننه د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر له خوا د کډوالۍ یا کوم بدیل وضعیت د اجازې یا د ردونې څه پریکړه نه وي ترلاسه کړي، نو تاسو په لیتویا کې د هغه ورځې پورې د کار کولو حق لرئ کله چې ستاسو د دوسیې حتمي پریکړه عملي کړی شي. د کارګرانو د اړیکو د پیلولو لپاره تاسو باید لومړی د پولې ساتونکي ته ولاړشئ چې د پناه غوښتونکي په توګه ستاسو په شخصي هویت کې ستاسو د کار د حق په اړه خبرتیا شامل کړي.

د استیناف په جریان کې تر ټاکلې اندازې پورې د ریاست له خوا تمویل شوې وړیا قانوني مرسته تر لاسه کړئ. د پناه د پروسې په هر پړاو د خپلې وظیفې په کارولول سره کوم یو کس ته بلنه ورکولی شئ چې قانوني مرسته ترلاسه کړي.

# د پناه غوښتونکي حقونه

چې تر ټاکلي اندازې طبي مرسته ترلاسه کړئ.



د پناه د پروسې په جریان کې به چارواکي ستاسو ځانګړي اړتیاو ته پام کوي، خو تاسو هم دا مسؤلیت لرئ چې د خپلو اړتیاویو په اړه معلومات ورکړئ.

که د پولې ساتونکی یا د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر دا ټاکنه وکړي چې تاسو ځانګړي پروسایي یا ستړي مشو مرستې ته اړتیا لرئ، نو د پناه غوښتنې د جریان په هر پړاو به تاسو د خپل حقوقو څخه په استفادې او د خپل مسؤلیتونو په پوره کولو سره مناسب او ښه مرسته ترلاسه کولو حق ولرئ.



لاندې کس هغه پناه غوښتونکی ګڼل کیدای شي، چې متخصص پروسایي یا د ستړي مشو مرستې ته اړتیا لري، د بیلګې په توګه:

- کوچنی یا کم عمر کس
- معلوله کس
- د انساني قاچاق قرباني
- هغه تن چې ځانګړي پاملرنې ته اړتیا لري
- هغه تن چې تشدد پرې شوی وي.





د خپل خپلوانو سره د مفاهمې او مخابرې لپاره د کډوالو د ملګرو ملتونو عالي کمشنرۍ (UNHCR) یا بله کومه اداره چې پناه غوښتونکیو ته قانوني یا بل ډول مشورې ورکوي.

تاسو یا ستاسو نماینده دا حق لرئ چې ستاسو د دوسیې د ټولو معلوماتو څخه بلد شئ، پرته له هغې وضعیتونو

چې د دغه اسنادو په ډاګه کول د لیتویا دولت ګټو ته زیان رسولای شي،

د هغه تن خوندیتوب په خطر کې اچولی شي چې معلومات وړاندې کوي یا د چا سره چې معلومات تړاو لري

د هغه موسسې د پلټنې په فعالیتونو اغیزه کولای شي چې د پناه په کړنلاره کې دخیل دي او د غوښتنلیک د پلټنې سره تړاو لري.



# د پناه غوښتونکي مسؤلیتونه



پناه غوښتونکي باید د پناه د پروسې اړوند چارواکو سره مرسته کوي، د بیلګې په توګه، د پولې د ساتونکي سره کوم چې باید ستاسو د ګوتو نښې واخلي ، تاسو وپیژني او ستاسو عکس وباسي، همدا ډول د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر سره باید مرسته کوي چې د غوښتنلیک د څېړنې لپاره ټول اړین معلومات هغوی ته وړاندې کړي.

چې د ګوتو نښې ورکړي که 14 کلن یاست.



چې په خبرو اترو او مرکه کې ګډون وکړي او په شخصي توګه د هغه پوښتنو ځواب ورکړي کوم چې وپوښتل شي او چې ټول اړین معلومات* چې څومره ژر ممکن وي، وړاندې کړي ترڅو د هغوی د غوښتنلیک بیاکتنه وکړل شي او مناسب پریکړه وکړل شي – همداډول، که ستاسو نماینده ستاس لپاره په خبرواترو یا مرکه کې ګډون کوي (نو هغه دا مسؤلیت هم لري چې څومره ژر ممکن وي ټول معلومات وړاندې کړي).



*د بیلګې په توګه،

- ستاسو په اجازه د اسنادو معلومات
- ستاسو د هویت په هکله؛
- د کورنۍ غړو؛
- مخکیني فعالیتونه او لاس ته راوړني؛
- دا علتونه چې ولې د پناه غوښتنه شوې.



پناه غوښتونکي باید د عامې روغتیا په برخه کې طبي کتنې او معاینې ترسره کړي – لکه، که اړتیا وي نو د روغتیا لازمي د سږو رادیوګرافي چې د نري رنځ او نورو عفونتي ناروغیو تشخیص وکړل شي.



# د پناه غوښتونکي مسؤلیتونه



پناه غوښتونکي باید په استوګنځی یا توقیف په اسانتیاویو کې داخلي د پروسې مقررات تعقیب کړي.

پناه غوښتونکي باید د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر او پولې ساتونکي د خپل استوګنې د ادرس یا که په هغې کې بدلون شوی وي، نه خبر کړي. که تاسو په مرکز کې استوګن نه یئ یا توقیف شوي نه یئ – نو د چارواکو ستاسو سره د خبرو اترو او مفاهمې لپاره به د هغه ځای ادرس استعمالیږي، چې تاسو په اخري ځل ورکړی وو.



# د پناه غوښتونکي استوګنځی

که تاسو د استوګنې مناسب وسیلې نه لرئ، تاسو باید په یو پراخه ډول مرکز کې پر ځای کړل شئ.

کله چې مرکز ته راورسیږئ، تاسو باید د یو پناه غوښتنوکي شخصي سند وړاندې کړئ.

یو کوچنی بې مله پناه غوښتونکی، ښایي په مرکز، د ماشوم ساتنې د چارواکي یا له هغه سرپرست سره میشت کړل شي چې د یتیمانانو او ساتنې د محکمې له خوا ټاکل شوی وي.
د استوګنځی په اړه پریکړه به د یتیمانانو او ساتنې د محکمې له خوا کیږي چې د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر به له دې سره موافقه کوي او د کوچني تن ګټې به په فکر کې نیول کیږي.

دغه مرکز د لیتویا د پلازمینې څخه په 17 کلومتره واټن په ریګا ښار کې دی. بس لمبر 16 له ریګا څخه دغه مرکز ته ځي.
د عام تګ راتګ لپاره مهالویش په دې ویب پاڼه کتلی شئ:
https://saraksti.rigassatiksme.lv/







## د مرکز کارکوونکی:

- بايد تاسو د مرکز د دنني مقرراتو او د اور لګيدنې څخه د حفاظت د قواعدو څخه خبر کړي (دا د مرکز په دهليز کې موجود وي او په ګڼ شمير ژبو کې ژباړه شوې وي)،
- هغه به تاسو ته ستاسو خونه او هغه پخلنځی وښايي چيرې چې تاسو د ځان او خپلې کورنۍ لپاره پخلی کولای شئ او همدا ډول د دغه مرکز نورې ودانۍ به تاسو ته وښايي، هغه به تاسو ته د لاسرسي کارت او نور اړين شيان درکړي،
- هغه به د عامه ودانيو د پاکۍ د مهالويش څخه تاسو خبر کړي، چې له هغې سره سم به تاسو په ودانيو کې د پاکي او نظم خيال ساتئ.



د عوامي ودانيو د پاکۍ مسؤليت بايد د مرکز ټول بالغ کسانو تر منځه ويشل شي.



# د پناه غوښتونکي استوګنځی

په يوه خونه کې له 4 څخه نيولې تر 10 پورې کسان ځايولی شي.

هغه کورنۍ چې ماشومان لري او عمر يې د پرې سکول وي، ترممکن حده په هغه خونو کې ځايول کيږي چيرې چې تشناب او لامبل ځای موجود وي. نور پناه غوښتونکي بايد عام يا شريک لامبل ځايونه او تشنابونه استعمال کړي.





د مرکز د اوسيدو په خونه کې د دو پوړو بسترې، لاکرې، ستولونه، ميزونه، کمپلې، بالښتونه، د بسترو څادرې او لوښي موجود وي. د معلولينو خونو کې د يو پوړ کټونه وي.

## لاندې اسانتیاوې په مرکز کې موجودې وي:



● پخلنځی او د پخلي لوښي



● د کالیو مینځلو خونه (د کالیو مینځلو ماشینونه، وچوونکي او استریان)



● کتابتون



● وائي فائي او د کمپیوټر د روزنې ټولګې چې د انټرنیټ کنیکسیون په کې موجود وي*



● د سپورټس (فټنس) خونه*



● تفریحي برخه



● د مرکز په ساحه کې دننه د لوبو ځای او د ماشومانو د لوبو ځای.

*د کمپیوټر یا سپورټ د خونې استعمالولو لپاره تاسو باید د مرکز د مسؤل کارمند سره ځان ثبت کړئ، د خونې کیلي ترلاسه کړئ، چې باید د کار یا بدني روزنې وروسته واپس کړل شي.



# د پناه غوښتونکي استوګنځی

په مرکز کې میشت کړل شوي شوي پناه غوښتونکي چې مناسب خوراک نه ترلاسه کوي، دا حق لري چې د مرستې وسیلې او ورځنۍ وظیفه ترلاسه کړي – چې هره ورځ او شپه به پناه غوښتونکي ته (د عمر او کورنۍ وضعیت پرته) 3,00 یورو ورکول کیږي.

د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر

مرکز

د دې وظیفې ترلاسه کولو لپاره تاسو باید د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر په ادرس غوښتنلیک واستوئ. همدا ډول تاسو کولای شئ چې د مرکز کارمندانو ته هم غوښتنلیک ولیږئ.



که چیرې تاسو له 24 ساعتو نه زیات وخت لپاره له مرکز څخه ووځئ، نو دا مسؤلیت لرئ چې د مرکز کارمند خبر کړئ!

# د پناه غوښتونکي استوګنځی




د مرکز کارمند به پناه غوښتونکي ته په اونۍ کې یو ځل له مخکې نه (د 7 ورځو لپاره) د پیسو لازمي فنډ ورکوي. د پیسو ترلاسه کولو لپاره به د پناه غوښتونکي د شخصي هویت باوري سند ته اړتیا وي.



د مرکز کارمند به د پیسو دغه فنډ هغه پناه غوښتونکیو ته ورکوي چې په مرکز کې اوسیږي، او عمر یې له 18 کالو څخه کم وي پیسې به:

- د هغه/هغې د کورنۍ بالغ غړي ته ورکول کیږي
- د بې مله کوچني پیسې به د هغه قانوني نماینده ته ورکول کیږي.

که تاسو د مرکز د کارمند له اجازې پرته له مرکز څخه له 48 ساعتو نه د زیات وخت لپاره بهر پاتې شوئ، نو کارمند حق لري چې ستاسو د غیرحاضرۍ د وضعیتونو حقیقي ارزونه ترسره کړي او  تاسو ته د غیرحاضرۍ د وخت پیسې تادیه نه کړي.






## په مرکز کې د اوسیدو پرمهال تاسو لاندیني مسؤلیتونه لرئ:

- د اوسیدو په ځای او عامه ودانیو کې باید د پاکۍ او نظم خیال وساتئ. فضله مواد ټاکل شوي لوښو ته واچوئ او دا د دروازې شا ته یا په لابۍ کې نه پریږدئ. تاسو د مرکز د انتظامیې څخه د پاکۍ مرسته ترلاسه کولی شئ.
- د ماشومانو پاملرنه به کوئ او کوچني ماشومان (0-7 کلن) به یواځې نه پریږدئ.
- خپلې مرکې، ډاکټر د کتنې لپاره په خپل ټاکلي وخت ولاړ شئ.
- د 23.00 او 7 بجو تر منځه باید غلي پاتې شئ
- کوم شیان چې تاسو ته درکول کیږي (د بسترو څادرې، لوښي) د هغې خیال وساتئ او د مرکز څخه د رخصتۍ نه مخکې به هغه واپس کوئ.
- انګیټۍ به بې له کوم کس نه یوازې نه پریږدئ او د پخلي وروسته به پخلنځی صفا کوئ.
- له مرکز څخه د رخصتۍ پروخت به ټول درکړل شوي شیان، په شمول د کیلیانو او لاس رسی د کارتونو، واپس ورکوئ او خپله خونه به پاکه پریږدئ.



# د پناه غوښتونکي توقیف



تاسو باید دا په پام کې ونیسئ چې د پناه د پروسې په جریان کې تاسو توقیف کیدی شئ او د پولې د ساتونکي په ځانګړي مجهز ودانیو کې په ډاګې کې په Liepaja) یا لایې) Daugavpils پلز هغه وضعیتونو کې میشت کیدی شئ کله چې:

- دا مهم وي چې ستاسو هویت یا تابعیت معلوم او تائید کړل شي
- دا مهم وي چې د هغه علتونو حقایق معلوم کړل شي، د کومو پر اساس چې تاسو د پناه ادعا کړي ، خو دا یوازې د توقیف له لارې کیدای شي (د بیلګې په توګه، د پولې د کتنو څخه د ژغورنې په موخه تاسو پرته له کوم معقول دلیله د ریاستي پولې څخه راغوښتي یئ)
- دا مهم دي چې لیتویا ته ستاسو د راننوتلو د حقوقو په اړه پریکړه وکړل شي؛
- داسې علت موجود وي چې تاسو په لیتویا کې د دې لپاره د پناه غوښتنه کړې چې د دې هیواد څخه خپله ویستنه وځنډوئ
- داسې علت موجود وي چې تاسو د هیواد خوندیتوب یا عامه نظم او خوندیتوب ته ګواښ رامنځته کړی وي
- د اروپایي اتحادیې هغه غړي هیواد ته د انتقال پروسه پیل شوې وي، چې ستاسو د غوښتنلیک د څېړنې مسؤل وي.



6
ورځې

په لومړۍ کې تاسو باید د شپږو ورځو او شپو لپاره توقیف کړل شئ خو ولې د محکمې د پریکړې پراساس باید ستاسو توقیف د پناه د پروسې د ټولې مودې لپاره وغځول شي.

!

پولې ساتونکی باید ستاسو د توقیف عمده مطالب چمتو کړي او ستاسو د حقوقو او مسؤلیتونو څخه به تاسو خبر کړي. مخکې له دې چې تاسو د توقیف په ودانۍ کې د میشت کړل شئ، ستاسو د روغتیا او پاکۍ ارزونه به ترسره کړی شي.

# د توقیف شوي پناه غوښتونکي استوګنځی

تاسو به د توقیف په ودانۍ کې میشت کړل شئ، ستاسو د بنیادي حقونو، خوندیتوب، اساسي اړتیاویو او روحي موزونیت ته به د لاندې شیانو سره پام کولای شي:

- که تاسو د روغتیا کومه ګډوډي لرئ، تاسو به د دې لپاره په ځانګړي مجهز خونه کې میشت کړل شئ.
- د کورنۍ غړي به په یوځای کې میشت کیږي، بې له هغې که د کورنۍ کوم غړی په ګډه په یوځای کې په اوسیدو اعتراض کوي.

که تاسو کوچنی تن یئ، تاسو به زده کړې ته لاس رسی لرئ.

- که تاسو یو بې مله کوچنی یاست، تاسو ته باید د میشت ځای درکړل شي چې سامان لري او ستاسو د عمر سره موزونیت لريـب
- سړي او ښځې جلا جلا میشتول کیږي.



- که تاسو په نړیوال لټون ځرګند شوي یاست، تاسو به له 72 ساعتونو لپاره په ځانګړي توګه د دغه موخې لپاره په ټاکل شوي ودانیو کې میشت کړل شئ.

10 ورځې

- په ځانګړي وضعیتونو کې که چیرې تاسو د داخلي نظم څخه سرغړونه وکړه یا مو د نورو پناه غوښتونکیو خوندیتوب له ګواښ سره مخامخ کړو، تاسو به تر 10 ورځو او شپو پورې په جلا توګه د دغه سرغړونې له کبله په ټاکل شوي ودانیو کې ځای پر ځای کړل شئ.

پولې ساتونکی به هر وخت د توقیف په ودانیو کې خوراک څښاک، د پاکۍ سامان، نور اړین شیان او طبي مرسته ورکوي.

په توقیف خانه کې د پاتې کیدو پرمهال تاسو باید داخلي مقرراتو پروسې سره سم چلند وکړئ.له کومو سره تاسو باید معرفي کړل شئ.

# زده کړه

کوچنی پناه غوښتونکی حق لري چې اساسي او ثانوي زده کړه ترلاسه کړي، او د لوییدو سره سم خپلو زده کړو ته دوام ورکړي.

په لیتویا کې له 5 نیولې تر 17 کالو پورې زده کړه ترلاسه کول لازمي دي چې په دې کې ماشوم/ماشومه د اساسي زده کړې لپاره چمتو کول، بنیادي زده کړې ترلاسه کول یا وروسته له هغې د لوییدو سره خپل زده کړو ته دوام ورکول شامل دي.

د کوچني پناه غوښتونکي د ښوونځی د داخلې لپاره به د هغه/هغې والدین یا قانوني نماینده مرکز ته غوښتنلیک ولیکي، یا د توقیف په وضعیت کې به پولې ساتونکي ته غوښتنلیک ولیکي.





لطفاً د ماشوم/ماشومې د حقونو تعقیب کوئ او د هغه/هغې ماښام داسې پلان کوئ چې په آرام یې تیر کړي څو سهار له ورته په ښوونځی تللو کې څه ستونزې نه وي!

دا پریکړه باید د زده کړې او ساینس وزارت کوي چې کوچنی پناه غوښتونکی به کوم ښوونځی ته ځي.

په ښوونځی کې حاضري کول ضروري دي، په ښوونځی کې د غیرضروري غیرحاضرۍ په وضعیت کې به ښوونځی د ماشوم/ماشومې کتنې لپاره د حقونو ساتونکي، پولیسو یا د یتیمانانو او ساتنې محکمې ته بلنه ورکوي. که یو ماشوم/ماشومه ناروغه شي، هغه به ډاکټر ته بوتلل شي او د ښوونځی غیرحاضري به موزون وګرځول شي.



# درمل



که تاسې طبي مرستې ته اړتیا لرئ په داسې حال کې چې په توقیف خانه یا د پولې ساتونکي سره یئ، تاسو باید د میډیکل نرس یا اړوند کارمندانو سره اړیکه ونیسئ او هغوی به ستاسو د روغتیا پاملرنه تنظیموي.

تاسو د دولت له خوا تمویل شوي د لاندې اسانتیاویو حق لرئ:

- عاجل طبي مرسته
- د امیندوارو ښځو او د ماشوم د زیږون مرسته
- په عاجل وضعیت کې د غاښ تداوی
- اساسي روغتیایي ساتنه (لکه د جنرل پریکتیشنر (ډاکټر) سره کتنه او معاینه
- درمل او طبي اوزار چې د بهرني ناروغانو ته د تداوي لپاره ورکول کیږي او د دې لپاره بودجه د دولتي سرچینې څخه اد خیستل کیږي
- روحیاتي مرسته
- د کوچنیانو لپاره طبي مرسته
- د ثانوني بهر ناروغ لپاره اضطراري طبي پاملرنه
- د خطر وړ عفونتونو د ناروغیو په وضعیتونو کې خدمات او د نري رنځ تداوي لپاره اړین مصنوعات.

که تاسو د ډاکټر، متخصص سره د کتنې لپاره عریضه کړې وي، لطفاً په پام کې ساتئ چې د کتنې د ساعتونو تعین په پابندۍ سره کیږي – که په خپل ټاکلي وخت د کتنې لپاره حاضر نه شوئ، نو تاسو به یو ځل بیا د ډاکټر څخه د کتنې لپاره وخت اخلئ او دغه خپل وخت به مرسته ترلاسه نه کړل شئ.

که چیرې تاسو د خپلې خوښې په ځای کې میشت یاست، نو عاجل طبي مرسته، د عمومي متخصص سره کتنې او د روغتیا ساتنې نور خدمتونه به په خپله ترلاسه کوئ. که ستاسو روغتیا په خطر کې وي، د 113 په تلیفوني شیمره په زنګ وهلو سره تاسو امبولانس راغوښتلی شئ.





# د پناه غوښتونکیو د مرکز څخه بهر د اوسیدو ځای

که تاسو په توقیف کې نه یئ، تاسو حق لرئ چې د مرکز نه بهر د استوګنې په هغه ځای کې ووسیږئ چې تاسو یې انتخاب کړی وي، او د دې خبر باید پولې ساتونکي ته ورکړئ او که د استوګنې په خپل دغه ځای کې بدلون کوئ نو د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر ته باید هم خبر ورکړئ.

تاسو به پخپله د استوګنې د هغه ځای پیسې ورکوئ چې تاسو پخپله انتخاب کړی دی. په داسې حال کې چې تاسو د مرکز څخه بهر وسیږئ، تاسو باید د خوراک وظیفه او ورځنۍ وظیفه ترلاسه نه کړئ.

# د ټولنیز کارکوونکي او ټولنیز مشاور مرسته

پناه غوښتونکي او کډوال دواړه  او همدا ډول کوم بل وضعیت لرونکي د ټولنیز کارکوونکي او ټولنیز مشاور د خدمتونو ترلاسه کولو حق لري.



ټولنیز کارکوونکي او ټولنیز مشاورین به ستاسو لارښوونکي او سلاکار وي، هغوی به تاسو، د مرستې وړاندې کوونکي او مدافعي کونسل هڅوي، ستاسو او ستاسو د کورنۍ سره به مرسته کوي، د ستونزو په حل کولو کې به له تاسو سره مرسته او کومک کوي او هڅه به کوي چې تاسو په ښه توګه د لیتویا په ټولنه کې میشت او بلد شئ.

تاسو به د پناه غوښتنې د پروسې په ترڅ کې هم د ټولنیز کارکوونکو او ټولنیز مشاورینو څخه مرسته ترلاسه کوئ. که تاسو ته د کډوال یا بل کوم وضعیت درکړل شي، تاسو به دغه مرسته له 12 نورو میاشتو پورې ترلاسه کوئ.

د ټولنیز کارکوونکي او ټولنیز مشاور مهم کارونه:

- چې په لیتویا کې په ژوند پیل کولو کې ستاسو د اړتیاویو او هیلو څخه ځان خبر کړي؛
- چې مرکز ته ستاسو د رارسیدلو نه وروسته عموماً په 3 ورځو کې دننه ستاسو او ستاسو د کورنۍ سره خبرې اترې وکړي
- چې په ټولنه کې د سوسیو معاشي شاملیدو لپاره انفرادي پلانونه جوړ کړي، او په منظمه توګه ستاسو او ستاسو د کورنۍ سره کتنه کوي او د دغه پلانونو د عملي کولو په اړه ستاسو سره بحث وکړي
- چې د بېلابېلو ستونزو لپاره نورې د حل کولو لارې ولټوي او تاسو ته په دغه اړه د اړینو سرچینو سلا درکړي؛
- چې د ورځني وضعیتونو په حل کولو کې ستاسو سره مرسته وکړي او په لیتویا کې په ټولنیز ژوند د پوهیدو کې ستاسو سره مرسته وکړي
- چې په هغه مهارتونو ترلاسه کولو کې ستاسو سره مرسته وکړي چې د ورځني ژوند لپاره اړین دي؛
- چې ستاسو لپاره د ټولنیزې مرستې شبکه جوړه او پراخه کړي؛
- چې د طبیعي او قانوني کسانو سره ستاسو د اړیکې نیولو لپاره ستاسو سره مرسته وکړي
- چې د شخصي هویت په اسنادو او بانکي کاتې په پرانستلو کې ستاسو سره مرسته وکړي
- چې د امتیازاتو په ترلاسه کولو کې تاسو ته معلومات درکړي او ستاسو مرسته وکړي
- چې ستاسو سره هغه ځایونو ته لاړ شي چیرې چې تاسو او/یا ستاسو ماشومان زده کړه ترلاسه کوي، کار کوي یا خدمتونه ترلاسه کوي؛
- چې د بشري مرستې، لکه د کالیو، پیزار او نورو شیانو ترلاسه کولو لپاره ستاسو سره تاکل شوي ځایونو ته ولاړ شي
- چې ښوونځی ته د تګ راتګ لپاره د ماشوم/ ماشومې او د موروپلار سره ولاړ شي چې ستاسو او د ښوونځی د ښوونکو ترمنځه همکارۍ ته وده ورکړي
- چې د استوګنې په ځای موندلو کې په چاپیریال کې د موجود سرچینو په رڼا کې ستاسو سره مرسته وکړي او  همداډول د کراه دارۍ په قرارداد یا تړون کولو کې ستاسو سره مرسته  وکړي
- چې د جنرل پریکټیشنر (ډاکټر) او د استخدام د دولتي موسسې سره ستاسو په راجستر کولو کې مرسته وکړي
- چې په نورو موسسو کې ستاسو د حقونو او ګټو په ترلاسه کولو کې مرسته او نمایندګي وکړي
- چې په ټولنیز او معاشي پلان برابرولو او عملي کولو کې ستاسو لپاره د ژباړوونکو خدمات ترلاسه کړي.



د ټولنیز کارکوونکي او ټولنیز مشاور مرسته په مرکز کې دننه د پناه غوښتونکیو او د مرکز نه بهر د پناه غوښتونکیو دواړو لپاره وي.

د ټولنیز کارکوونکي او ټولنیز مشاور خدمات د ”پروموشن آف ډاییورسټي“ پروژې له مخې وړاندې کیږي او دغه پروژه د ټولنیز ادغام موسسې عملي کړې ده. د پوښتنو یا شک و شبې په وضعیت کې لطفاً د ټولنیز ادغام د موسسې سره اړیکه ونیسئ.

# مرکه

د پناه او بیاکتنې لپاره ستاسو د غوښتنلیک د قبلیدو څخه وروسته به د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر کارمندان ستاسو سره مرکه ترسره کړي.

د مرکې نه لږ مخکې به تاسو د مرکې سره معرفي کړل شئ. سربېره پردې، تاسو به د هغه تن سره معرفي کړل شئ چې په مرکه کې شرکت کوي.

د مرکې وخت او ځای به د هغه پریکړې په وخت وټاکل شي کله چې د ارزونې لپاره ستاسو غوښتنلیک ومنل شي.



د مرکې په ترڅ کې به تاسو فرصت لرئ چې په دې اړه تفصیلاً معلومات ورکړئ چې تاسو خپل اصلي هیواد یا د تیر شوي استوګنې هیواد ولې پریښودی دی او د پناه غوښتنه مو کړې ده. تاسو کولای شئ چې اضافي اسناد او ثبوتونه وړاندې کړئ چې ستاسو د بیان او معلوماتو تائید کوي. تاسو به حق لرئ چې پرته له څه تردده خپل نظر د خپل وضعیت او کیس په اړه وړاندې کړئ خو دا مسؤلیت به هم لرئ چې له تاسو څخه کومې پوښتنې وکړل شي، د هغې ځواب ورکړئ.

د مرکې په ترڅ کې باید یو ژباړوونکی موجود وي، او هغه به تاسو ته په هغه ژبه کې معلومات وړاندې کوي په کومه چې تاسو پوهیږئ.



د مرکې وروسته به تاسو ته ستاسو د کیس د پرمختګ په اړه معلومات درکړل شي او که تاسو غواړئ نو د دې په اړه اضافي پوښتنې هم کولای شئ.



ستاسو نماینده هم دا حق لري چې په دغه مرکه کې ستاسو سره ګډون وکړي.

که تاسو یو بې مله پناه غوښتنکی یاست، نو ستاسو د نماینده په موجودیت کې به مرکه ترسره کیږي.

ستاسو سره به مرکه ستاسو د کورنۍ د غړیو پرته ترسره کیږي، بې له هغې که دا وګڼل شي چې د هغوی شرکت اړین دی.

همداډول، د پناه په پروسه کې ښکیل نور چارواکي هم په مرکه کې د برخه اخیستلو او ستاسو څخه د اضافي پوښتنو کولو حق لري.



تاسو چې کوم معلومات وړاندې کوئ، هغه به د آډیو یا ویډیو په وسیله ثبت کیږي او د دې په اړه به تاسو ته جلا معلومات درکول کیږي.

# د غوښتنلیک د بیاکتنې کړنلاره*




*سکیم لمبر 1. د عادي پروسې سره سم د پناه لپاره د غوښتنلیک د څېړنې تشریح کوي.





# د پریکړو خلاف د اعتراض او استیناف کولو پروسه

تاسو د ولسوالۍ اجرائیوي محکمې ته د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر د پریکړو خلاف اعتراض کولای شئ (سکیم لمبر 2 وګورئ)، د خپل استوګنځی یا اوسیدو د ځای پراساس یا د کورنیو چارو وزارت ته د پریکړې خلاف اعتراض کولای شئ (سکیم لمبر 3 وګورئ).

که تاسو د کومې پریکړې سره موافق نه یئ نو په د هرې پریکړې په پای کې دا معلومات ورکړل شوې وي چې د دغه پریکړې خلاف تاسو په کوم ځای کې او په څومره موده کې اعتراض یا استیناف کولای شئ.

تاسو باید خپل غوښتنلیک د ولسوالۍ د اجرائیوي محکمې په ادرس د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر ته ولیږئ، او هغه به ستاسو د کیس د دوسیې د ټولو موضوعاتو سره ضمیمه ستاسو غوښتنلیک په یوه کاري ورځ کې دننه محکمې ته واستوي.

د پناه غوښتونکي په توګه تاسو دا مسؤلیت نه لرئ چې په محکمه کې د غوښتنلیک د سپارنې پیسې ادا کړې او له دې څخه برأت لرئ.



سکیم لمبر 2

## که تاسو د لاندې په اړه د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر د پریکړې سره موافق نه یئ:

- ستاسو بل غړي هیواد ته انتقال — 15 کاري ورځې؛ که تاسو توقیف شوي يئ — 5 کاري ورځې
- خپل غوښتنلیک پرته له محاکمې پریښودل — 15 کاري ورځې؛ که تاسو توقیف شوي يئ — 5 کاري ورځې
- د کډوال یا بل وضعیت د ورکولو څخه انکار — 1 میاشت
- د کډوال یا بل وضعیت د ورکولو څخه انکار د عادي پروسې له لارې — 1 میاشت؛ د چټکې پروسې له لارې — 15 کاري ورځې
- 15 کاري ورځې — تاسو د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر ته عریضه کولای شئ چې ستاسو د غوښتنلیک ځېړنه پیل کړي. — 9 میاشت
- ستاسو د غوښتنلیک د څېړنې د پیل کولو څخه انکار. — 15 کاري ورځې
- د ویستلو یا د کډوال یا بل کوم وضعیت له لاسه ورکول — 1 میاشت

## تاسو د ولسوالۍ اجرائیوي محکمې ته خپله مناقشه وړاندې کولای

شئ. کله چې د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر د پریکړو خلاف د ولسوالۍ اجرائیوي محکمې ته اعتراض کوئ، نو د پناه غوښتونکي مالي وضعیت د ارزونې وروسته هغه/هغې ته د قانوني مرستې لپاره د دولت له خوا پیسې ورکول کیږي. د محکمې پریکړه حتمي وي او د هغې خلاف استیناف نه شي کیدی.

# د پریکړو خلاف د مناقشه او استیناف کولو پروسه

سکیم لمبر 3

**که تاسو د لاندې شیانو په اړه د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر د پریکړې سره موافقت نه کوئ:**

- د غوښتنلیک د څېړنې د مودې ځنډول
- د شخصي مرکې د اجرا د مودې ځنډول
- د مالي او ورځني وظیفې د ورکولو څخه انکار
- د وضعیت ترلاسه کولو وروسته د یو وخت د ګټې ورکولو څخه انکار

1 میاشت

تاسو د کورنیو چارو وزارت پر وړاندې خپله مناقشه وړاندې کولای شئ

که تاسو د کورنیو چارو د وزارت له پریکړې څخه هم قانع نه یاست

1 میاشت

تاسو د ولسوالۍ محکمې پر وړاندې خپله مناقشه وړاندې کولای شئ

* تاسو هغه وخت د دولت له خوا د وړیا قانوني مرستې لپاره پیسې ترلاسه کولای شئ کله چې د کورنیو چارو د وزارت د پریکړې خلاف د ولسوالۍ اجرائیوي محکمې ته خپله مناقشه وړاندې کوئ



سکیم لمبر 4

**که د لاندې شیانو په اړه پولې ساتونکي د پریکړې سره موافقت نه کوي:**

د 48 ساعتونو لپاره توقیف

48h

په ټاکلي وخت پولې ساتونکي په سیمه ییز یونټ کې د راجستر کیدو مسؤلیت

7 کاري ورځې

تاسو د دې خلاف مناقشه د پولې ساتونکي رئیس/رئیسې ته وړاندې کولای شئ

7 کاري ورځې

کله چې د ولسوالۍ (ښار) د محکمې خلاف مناقشه کوئ
که د پولې ساتونکي د ولسوالۍ (ښار) د محکمې د پریکړو خلاف مناقشه کوئ، نو یو پناه غوښتونکي ته وړیا قانوني سلا درکول کیږي او د هغه/هغې د مالي وضعیت ارزونه نه ترسره کیږي

* تاسو هغه وخت د دولت له خوا د وړیا قانوني مرستې لپاره پیسې ترلاسه کولای شئ کله چې د کورنیو چارو د وزارت د پریکړې خلاف د ولسوالۍ اجرائیوي محکمې ته خپله مناقشه وړاندې کوئ

# د پریکړو خلاف د اعتراض او استیناف کولو پروسه

د کډوال یا بل کوم وضعیت ترلاسه کولو وروسته د ګټې د تادیې ترلاسه کولو په اړه ستاسو په کیس کې د ټولنیزې بیمې ولایتي موسسه باید پریکړې وکړي.

## که تاسو د ټولنیزې بیمې ولایتي موسسې د پریکړې سره موافقت نه کوئ

د کډوال یا بل کوم وضعیت ترلاسه کولو ورسته د ګټې د تادیې د انکار په اړه

1 میاشت

تاسو کولای شئ چې د خیر ښیګړې وزارت ته د دې خلاف امناقشه وړاندې کړئ

1 میاشت

که تاسو د خیر ښیګړې د وزارت د پریکړې څخه قانع نه یاست

تاسو کولای شئ چې د ولسوالی اجرائیوي محکمې ته خپله مناقشه وړاندې کړئ



# دولتي قانوني مشوره

که تاسو مناسب مالي وسیلې نه لرئ، تاسو حق لرئ چې د دولتي قانوني مشورې لپاره غوښتنه وکړئ او ترلاسه یې کړئ.

دولت به د یو کیس په چوکاټ کې د لاندیني مقدار قانوني مرستې تادیه کړي:

- د محکمې څخه پرته او د محکمې د قضاوت اوقانوني سلا په پړاو کې خو د پنځوو ساعتونو نه د زیات وخت لپاره نه
- د پنځو قانوني اسنادو د چمتووالي لپاره د محکمې د قضاوت او غیر محاکمي پړاو کې
- په محکمه کې د نمایندګۍ او وکالت لپاره خو له 40 ساعتونو څخه زیات نه.

# د ریاستي قانوني مرستې د غوښتنې پروسه

د قانوني مرستې ترلاسه کولو لپاره تاسو باید لیکل شوې غوښتنه وسپارئ – بشپړ شوې پوښتنلیک. تاسو باید په دې کې خپل معلومات ورکړئ او د کومې پریکړې خلاف چې مناقشه کوئ باید د هغې معلومات وړاندې کړئ، دا معلومات به وړاندې کړئ چې تاسو کوم خپل مالي وسایل نه لرئ، او له دې کبله، تاسو دولتي قانوني مرستې ته اړتیا لرئ. (پوښتنلیک په ګڼ شمیر ژبو کې ژباړه شوی وي، او تاسو د دې غوښتنه په هغه ژبه کې کولای شئ په کومه چې تاسو پوهیږئ).

د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر

که تاسو توقیف شوي نه یئ نو باید پوښتنلیک د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر ته وسپارئ او هغوی به د قانوني مشورې ادارې ته دا وسپاري او د قانوني مرسته وړاندې کوونکي سره ستاسو د خبرو اترو لپاره د ژباړن انتظام وکړي.

کله چې د قانوني مشورې اداره ستاسو لپاره قانوني نماینده وټاکي، نو دا به د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر د دې څخه خبر کړي چې کله او کوم ځای به د هغه/هغې مرکه ستاسو سره ترسره کیږي چې د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر ستاسو د خبرو اترو لپاره د ژباړن انتظام وکړي.





که تاسو په توقیف کې یئ، تاسو باید دغه پوښتنلیک پولې ساتونکي ته وسپارئ.

د توقیف په اړه د مناقشه کولو لپاره تاسو د پولې ساتونکي د پریکړو خلاف خپله مناقشه د ولسوالۍ (ښار) محکمې ته وړاندې کولای شئ. د دغه پریکړو خلاف د اعتراض کولو لپاره به تاسو ته دولتي قانوني مرسته او د قانوني نماینده سره د خبرو اترو لپاره د ژباړن خدمات وړاندې کړي.

تاسو د وضعیت ورکولو یا د وضعیت ورکولو څخه د انکار په اړه د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر د پریکړو خلاف اعتراض د خپل توقیف د ودانۍ د ادرس سره سم د ولسوالۍ اجرائیوي محکمې ته وړاندې کولی شئ. د پولې ساتونکی به ستاسو د غوښتنې پراساس ستاسو لپاره د دولتي مرستې ترلاسه کولو لپاره د نماینده انتظام وکړي.

# د وضعیت ترلاسه کولو وروسته

**د کډوال وضعیت:**

**بل وضعیت:**

- تاسو ته به سفري سند (پاسپورټ) درکړل شي چې دا به ستاسو د اصلي هیواد پرته له نورو ټولو هیوادونو لپاره باوري وي.

په لیتویا کې صادر شوي سفري سند ترلاسه کولو څخه وروسته، تاسو به د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر ته د زیرمه کولو لپاره خپل شخصي د هویت اسناد او هغه سفري اسناد سپارئ، چې تاسو ته له هیواده بهر صادر شوې دي او تاسو یې په خپله مرضی استعمالولی شئ.

- که تاسو هغه سفري سند نه شئ ترلاسه کولای چې ستاسو کورني هیواد صادر کړی وو نو سفري سند (پاسپورټ) باید تاسو ته درکړل شي.

تاسو باید لومړی سفري سند او د استوګنې اجازه وړیا ترلاسه کړئ.

- تاسو ته به د دایمي استوګنې اجازه درکړل شي چې باید هر پنځه کاله وروسته د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر کې ثبت کړل شي

په لیتویا کې د استوګنې باوري اجازه تاسو ته دا حق درکوي چې پرته له کوم محدودیتونو په لیتویا کې استخدام ترسره کړئ.

- تاسو ته به د موقتي استوګنې اجازه درکړل شي. په لیتویا کې د خپل وخت د غځولو لپاره تاسو باید د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر ته هر کال د استوګنې د اجازې د وخت ختمیدو نه یوه میاشت مخکې مراجعه وکړئ او هغوی به دا ارزونه ترسره کړي چې آیا تاسو ته د موقتي استوګنې اجازه په تکرار سره درکړي.

- تاسو باید حق ولرئ چې د کورنی له هغه غړیو سره یوځای شئ چې د هیواد څخه بهر اوسیږي

د کډوال د کورنۍ غړیو ته به د دایمي استوګنې اجازه ورکړل شي خو هغه تن چې بل کوم وضعیت یې ترلاسه کړی وي، د هغه کورنۍ ته به د دغه کس د وضعیت سره سم د استوګنې اجازه ورکول کیږي.

- وروسته له هغه کله چې تاسو د دوو کالو لپاره په لیتویا کې ووسیږئ، تاسو کولای شئ چې د خپل کورنۍ له هغه غړیو سره یوځای شئ چې په بل هیواد کې وسیږي.

- که تاسو مناسب مالي وسیلې نه لرئ، تاسو حق لرئ د یو وخت مالي مرسته (د یو وخت ګټه) او د استوګنې د لګښتونو امتیازه (ګټه) ترلاسه کړئ. کډوال د دې مستحق یي چې د 10 میاشتو لپاره ګټه ترلاسه کړي او بل وضعیت ترلاسه کوونکی حق لري چې دغه ګټه د 7 میاشتو پورې ترلاسه کړي.



د یو وخت د مرستې د پیسو مقدار د بالغ تن لپاره 278.00 یورو او د کوچني تن لپاره 194.00 یورو وي خو که تاسو میره یا میرمن یئ، نو بیا د یو وخت مرسته د یو تن لپاره 278.00 یورو خو د دوهم تن لپاره 194.00 یورو وي، چې د دې په اړه تاسو باید موافقت وکړئاو په خپل غوښتنلیک کې یې مشخص کړئ. دا مرسته د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر له خوا ورکول کیږي.

د بالغ تن لپاره به د ګټې د پیسو مقدار 139.00 یورو د یوې میاشتې لپاره وي او د کوچني تن لپاره به 97.00 یورو د یوې میاشتې لپاره وي، خو که تاسو میره یا میرمن یئ، نو په تاسو کې د یو تن لپاره به 139.00 یورو په یوه میاشت کې او د بل تن لپاره 97.00 یورو په یوه میاشت کې وي، چې د دې په اړه تاسو باید موافقت وکړئ او په خپل غوښتنلیک کې یې مشخص کړئ . دا مرسته د ټولنیزې بیمې ولایتي موسسې له خوا ورکول کیږي.

د یو وخت مرسته او/یا ګټه ترلاسه کولای د وړتیا لپاره تاسو باید د لیتویا په هر یوه کریدیت موسسه یا د لیتویا په پوسته خانه کې شخصي کاته جوړه کړئ

د کوچني تن د یو وخت مرسته او/یا ګټه به د هغه قانوني نماینده ته واستول شي.

د اضافي معلوماتو یا غوښتنلیک د سپارنې د مرستې ترلاسه کولو لپاره تاسو د اړوند چارواکي (د مرکز سره هم) یا د ټولنیز مشاور ته رجوع کولی شئ.

د یو وخت د مرستې ترلاسه کولو لپاره تاسو باید د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر ته غوښتنلیک له هغه وخت څخه په یوه میاشت کې دننه وسپارئ کله چې تاسو ته د کډوال یا بل کوم وضعیت درکړی شوی وو. د ګټې ترلاسه کولو لپاره تاسو باید د ټولنیزې بیمې ولایتي موسسې غوښتنلیک له هغه وخت څخه په 21 میاشتو کې دننه وسپارئ کله چې تاسو ته د کډوال یا بل وضعیت درکړی شوی وو. په غوښتنلیک کې تاسو باید د یو وخت د مرستې او د ګټې دواړو لپاره دا تائید کړئ چې دغه لازمي فنډ د هغې لږ تر لږه میاشتني معاش د مقدار څخه تجاوز ونه کړي چې په لیتویا کې د یو تن لپاره ټاکل شوی دی او د کوم لپاره چې د یو وخت د مرستې یا ګټې غوښتنه شوې ده.

په لاندې وضعیتونو کې به د هغه تن لپاره د ګټې تعین کیږي چې له 15 کالو څخه د تقاعد د عمر پورې په دې هیواد کې په لاندې وضعیتونو کې وي:

- چې یو تن مستخدم وي؛
- چې یو تن بې کاره وي او د استخدام د دولتي موسسې سره ثبت وي، هغه د بې کاره یا کار لټوونکي وضعیت لري او هغه د بې کاره تن یا کار لټوونکي مسؤلیتونه پوره کوي او د رسمي ژبې د زده کړې په پروګرامونو کې شرکت کوي (که د یو تن د ګروپ I یا د ګروپ II د ،معلولیت تعین وکړل شي یا دغه تن په لیتویا کې د پوره وخت په پروګرام کې په تعلیمي اداره کې زده کړې ترلاسه کوي نو د استخدامم د دولتي موسسې سره راجستر کیدو ته اړتیا نشته).

# حتمي منفي پریکړه

که تاسو ته د کډوال یا بل کوم وضعیت درکولو څخه انکار وکړل شو (چې د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر یا محکمې پریکړه وي، او که تاسو د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر د پریکړې خلاف مناقشه کړې وي) او تاسو په لیتویا کې د پاتې کیدو څه قانوني علت نه لرئ، نو ستاسو د ویستلو امر به صادر شي یا د جبري ویستنې د پریکړې امر به صادر شي.

له 7 ورځو نیولې تر - 30 ورځو پورې

د ویستلو د امر د عملي کولو لپاره له 7 ورځو نیولې تر 30 ورځو پورې وخت وټاکل شي. تاسو دا حق هم لرئ چې د ویستنې د امر د ټاکل شوي وخت څخه مخکې بیرته لاړ شئ. تاسو د مهاجرت د نړیوالې موسسې ته د مرستې ترلاسه کولو لپاره د عریضې کولو حق هم لرئ چې له مخې به یې تاسو خپل کورني هیواد ته په داوطلبانه توګه ستانه شئ.



# ګټه ور تماسونه

**1**

Pilsonības un migrācijas lietu pārvalde

د تابعیت او کډوالۍ د چارو دفتر
Čiekurkalna 1. līnija 1, k-3,
Rīga, LV-1026,
د معلوماتو لپاره تلیفون: 67588675 (+371)
فاکس:67829825 (+371)
ایمیل: pmlp@pmlp.gov.lv
بریښنالیک: www.pmlp.gov.lv
facebook.com/IeM.PMLP
twitter.com/IeM_PMLP

**2**

د پناه د چارو څانګه
د مرکې خونه
Stabu iela 89, Rīga,
LV - 1009

**3**

د پناه غوښتونکیو مرکز،
Mucenieki, Ropažu سیمه،
novads, LV-2137

**4**

Valsts robežsardze

د ولایتي سرحد ساتونکی
مرکزي بورډ
Rūdolfa iela 5, Rīga, LV-1012
تیلیفون: 67075617 (+371)
(+371) 67075739,
فاکس: 67075600, (+371)
بریښنالیک: robezsardze@rs.gov.lv
www.rs.gov.lv

**5**

دولتي پولې ساتونکی
Daugavpils بورډ
د توقیف شوي خارجیانو د استوګنځی مرکز
A. Pumpura iela 105 B,
Daugavpils, LV-5417

**6**

Juridiskās palīdzības administrācija

د قانوني مرستې انتظامیه
Pils laukums 4, Rīga, LV-1050
وړیا هیلپ لاین: 80001801
بریښنالیک: jpa@jpa.gov.lv
www.jpa.gov.lv
twitter.com/JPA_lv

**7**

Sabiedrības integrācijas fonds

د ټولنې سره د ادغام موسسه
Aspazijas bulvāris 24, 3.stāvs,
Riga, LV-1050,
تیلیفون:(+371) 67078226 (LV, ENG, RUS)
بریښنالیک:info@sif.gov.lv
www.sif.gov.lv
facebook.com/Sabiedrībasintegrācijas-fonds-1473806282831644/facebook.com/Society-Integration-Foundation-619832468031137/
twitter.com/siflv

# ګټه ور تماسونه

**8**

غير دولتي موسسه
((د پناه خوندي کور))
Lāčplēša iela 75 - 9/10, Rīga, LV-1011
تیلیفون: (+371) 67898343
(+371) 28612120, (+371) 25565098
بریښنالیک: drosa.maja@gmail.com
www.patverums-dm.lv
www.beglis.lv/www.refugees.lv
facebook.com/Patverums.Drosa.Maja
twitter.com/PatverumsDM

**9**

د مهاجرت نړیواله موسسه
IOM ریګا (Riga) دفتر
ANO nams, Pils iela 21, LV-1050, Rīga
تیلیفون: (+371) 67503627
بریښنالیک: imezs@iom.int
وبسایت : www.iom.int
facebook.com/IOM
twitter.com/UNmigration



# عمده مطالب

# عمده مطالب

# عمده مطالب


3
Mucenieki
Rīga
5
Daugavpils
1
Čiekurkalna 1. līnija
Čiekurkalns
Brīvības iela
A. Čaka iela
4
Rūdolfa iela
Lāčplēša iela
Stabu iela
Grīziņkalns
6
9
7
8
2
Valmieras iela
Pils iela
Vecrīga
Aspazijas bulvāris